# شمالي وزيرستان: ټي ټي پي ته يو بل لوی ګوزار اته تنه خوارج دامنيتي ځواکونو له خوا وژل شوي

شمالي وزيرستان؛ د شيوا په شازکه کې، امنيتي ځواکونو، په يوه خورا پيچلي او د لوړ خطر عملياتو کې، د عالي مسلکيتوب او غوره تکتيکونو په ښودلو سره، د ټي ټي پي سره تړلي اته خوارج ووژلی دي۔

**د تفصيلاتو له مخې، امنيتي ځواکونو د ړرترهګرو مرکز محاصره کړ او د منظمې تګلارې له مخې يې د تېښتې ټولې لارې بندې کړې او ترهګر يې په نښه کړل۔ په سخته جګړه کې اته خوارجان مردار شوی۔**






**وژل شوي تروريستان په بهته اخيستو، هدفي وژنو او پر امنيتي ځواکونو په ترهګريزو بريدونو کې لاس درلود او د لويو تروريستي عملياتو لپاره يې چمتووالی نيولی و۔ ځايي خلک د زيات شمېر ترهګرو په وژل کېدو د اطمينان څرګندونه کوي، په داسې حال کې چې د ټي ټي پي بزدله او منافقه مشرتابه په دوديزه توګه د خپلو وژل شويو ملګرو د منلو څخه ډډه کوي۔**

په سپين وام او شاوخوا سيمو کې ګمارل شوي امنيتي پرسونل په فعاله توګه د ترهګرو په له منځه وړلو بوخت دي۔ خوارج ته د پټېدو او تېښتې چانس نه ورکول کيږي او په لوی شمېر کې د امنيتي ځواکونو په لاس د يوه وحشتناکه پای ته رسيږي، الحمدلله